د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: ژوندي خيالونه

ویناوال :ډاکتر کبیر ستوری

خپروونکی: پښتونوخا څېړنې مرکز ، پېښور

د چاپ شمېر ۵۰۰ ټوکه

د چاپ کال ۱۹۹۷ م

د چاپ ځای لیوال خپرونې


ډیزاین آسیاسافټ ، ټلیفون ۳۰۷۰۶ ، پېښور

د کمپیوټر په مخ اډو نکی سمسور حبیبي

ډالۍ

خپل درون مشر د پښتون قامي وحدت لارښود محمد افضل خان «خان لالا» ته چې د پښتنو د يووالي او ابادۍ خيالونو ته ئې ژوند وربخلی دی خپل ژوندی خيالونه د زړه له کومې ډالۍ کوم.

ډوکتور کبير ستوري



په عکس کې کيڼ اړخ ته د عوامي نېشنل پارټۍ مشر چې د دې
کتاب سريزه ئې ليکلې ده، مينځ کې د پښتنو د ټولنيز ولسوليز
ګوند مشر چې دا کتاب ئې ليکلی دی او ښي اړخ ته د پښتونخوا
قومي پارټۍ مشر خان لالا محمد افضل خان چې دا کتاب ورته
ډالۍ شوی دی ليدل کېږي.

سریزه

په تیارو کې ځلانده ستوري

څوک په رضا د ملکه نه ځي
یا ډیر غریب شي یا د یار د غمه ځي

ددې لیک په تنده ی لیکلی شوی لنډۍ یوه مشهوره ټپه ده، او تر اوسه پوری د پښتني دنیا د زړه آواز دی، ماته نن د کبیر ستوري په تعلق را پاده شوه.

زمونږ دا ستوری د کونړ د طبعي ښکلا د لمنی نه د جرمني د صنعتي تمدن د غر غور فضا ته رسؤلو کې د یار د غم ډیره برخه ده، البته یار ئې هیواد دی، ځکه ئې نن ټول ژوند یوه داسی روښانه هنداره ده چې پ ّ کې د ده د زړه، ذهم، فکر او عمل هر اړخ کې د وطن مینه او د ملت درد جوت او تو (ګرم) ښکاري، که دی تحصیل (تعلیم) کې لکیا وی که د روزۍ پ ّ تا بیا مصروف وي، نو «د ستدر کار او با یاروي» ، او چې دی دوران کې څه وخت پیدا کړئ هغی کې هم د نوي تمدن او تهذیب په مست او رنګین آزاد ماحول کې سیل، تفریح او مزی چړچی نه کوي بلکه د هیواد او ملت د پاره نول او زیار کوي، د ذهن هر قوت، قلم هر کش او د وخت هره شیبه (لمحه) خپل اولس کې که هیواد کې دی که بیرون دنیا کې ، د وطن د مینی او خدمت را اولړزوي، ملي احساس پیدا کړي،دبیدارئ وینه ګرمه کړي او تش نس غیرتي اولس نه د فومي وحدت یو قوت

جوړ کړي، چې د خپل جنت هسی وطن د کورونو او بهرنو غاصبانو د زپلو، لوټلو او خرابولو نه اوساتي او د زمکی په مخ تری په رښتیا جنت کوړ کړي ، په دغه لیونئ مینه او ریښتني هوډ په جرمني او یورپ کې هو ورځ او شپه لګیا دی د وطن والو د تیارؤلو (آماده کولو) راغونډولو او منظم کولو دنده ئې د عمر سره سمه خپله کړې ده، ددی د پاره ئې د هیوادوالو ذهن روښانه کولو او د مرام لاره رتړولو د پاره ئې قلم هم د لاسه غورزولی نه دی او لرو بر پښتونخوا ته ئې هم ځان رسولی دی، تر خپله وسه ئې د ملي تحریک او ژواک خدمت کړیدی او کوي، تر دی چې د یو شاعر او انسان په حیث ئې احساس جمال د بشري حسن نه هم متاثر (اغیزن) کړی نو زمونږ په ستوري د ملي ژوند د ښایست د احساس چپه راښي او دی د ژوند په غرزو پرزو او د ادب او شعر په ذوق کې د خپلی خاؤری او اولس ترجمان شي، ریښتونی پښتون شي، چې د شعرونو مجموعه ژوندي خیالونه لکه د ده د نور شعري او نثري ادب زما ددی وینا ثبوت دی، هر څوک چې ئې لولي دا خوند او رنګ به پکېویني.

زه چې د خپل ښاغلي ستوری دا کتاب ژوندي خیالونه بیا بیا لولم، نو هر ځل پکې راته د ده د خپل ملي مرام سره د ژوری او عمري (عمر سره سمی) مینی خصوصا د سوچه پښتو او سپیڅلې پښتونؤلۍ د غیرتي احساس او لیوني تړون دا سی شعر و فن ښکاري چې په ښکلي رنګ کې د خاؤری، ننګ او د وینی غورزنګ د مثالي اشعارو رنګینه او خسینه جامه آغوستې وي، اوس چې دا څو الفاظلیکم نو د خپلی رایی د ثبوت د پاره هم راته ډیر اشعار راوړاندی شول، خو زه چې اوږدرل نه غواړم نو هغه دلته نه لیکم او ددی کتاب په معنوي او ادبي اړخونو هم بحث کول نه غواړم،

« مشک آنست که خود ببوید نه که عطار بګوید»

المختصر زمنو نږ د مسافر ستوری دا کلام ژوندي خيالونه په پښتو ژبه، د پښتني وينی او مينی د پښتنو دننني او پرونی زخمونو او صباني ارمانونو او پښتو او پښتونولئ د ژوند او مستقبل د پسرلي وږمی دي.
دلتهت دده دا شعر ضروو ليکم چې د خوشحال بابا و اخلی، د فخرافغان بابا او تر ستوری پوری د هر نګيالي مشر کشر پښتون ارمان دی.

دا ستوری د پښتون د خپلواکئ به هله رون شي
چې وا ړه پښتانه په يو مرکز ټول شي جرګه شي

اجمل ختټک
اکوړه ختټک، پښتونخوا
۸ اپريل ۱۹۹۷

دعا

د مینی د ښمنان واړه مین او عاشقان کې !
یا ربه د انسان !
توان د محبت زړه کې پیدا د هر انسان کې !
یا ربه د جهان !
چې هر یو تن مین شي په انصاف او عدالت
د زور نه وي نفرت
سوله ارامي شي او ژوند ون وي د عزت
د هر قام او ملت
بنسټ او لسولی شی چې هر تن وی په امان کې !
توان د محبت زړه کې پیدا د هر انسان کې !
یا ربه د جهان !
چې نشت نوم د ښکیلاک او دزبیښناک شي په دنیا کې !
قایمه ورورلې شي
هر څوک په کار لګیا شي د ژوند ون په ارتقا کې !
پدی لار کې سیالي شي
شریک شي اولسونه ټول په ګټه او تاوان کې !
توان د محبت زړه کې پیدا د هر انسان کې !

یــــا ربــه د جـــــهــان !
نقشه کې د نړۍ جـــــوړه د ستـوری پښتـونخوا کې !
چــې زړه د اســـــيــا دی
تـــــــــوان د انـفاق پــه پــښتــنو کــې راپــيدا کــې !
چې لــوی ارمــان زمــا دي
بـچــــــــی مې د وطـن تـول د پــښتـو پـه لار روان کې !
تـوان د مـحبــــــــت زړه کې پــيدا د هـر انـسان کـې !
یــــا ربــه د جــــهــان !

د ژوند چار

د ژوند په چار کې چا دنیا او چا عقبا واخیسته
چا د غم دروند پیتی په سر کړ چا خندا واخیسته

چا د نسیه حورو په تمه زاهدی غوره کړه
چا میخانه په اجاره د عشق دونیا واخیسته

چا په دولت باندې زړه بایلود زرپرسته شولو
چا پکې ښکلی خوښول او چا ښکلا واخیسته

چا پکې خیته مړوله عشق ئی نه پیژنده
چا جانان غېږه کې راټینګ کړ چا لیلا واخیسته

چا د بیړیو د شرنګا نه سرودونه جوړ کړل
د خزان غیږ کې پسرلی د ژوند نه سا واخیسته

د کونړ ستوری پاس په هسک کې ځلیده ویل ئی
ما پکې مینه د پښتو او پښتونخوا واخیسته

ارمان

تضادونه د ټولنې ارمانونه را پيدا کړي
ارمان مور د نظريو ده لوړ خيالونه را پيدا کړي

نظري چې اولسي شي سمه او غر شي خوځولې
د ارمان پوره کيدو ته غور ځنګونه را پيدا کړي

ياد د ټول قام د يووالي د پښتون د ننګ تاريخ دی
ياد اميد دی د ليدلو دي++دنونه را پيدا کړي

په ډګر د قامولۍ کې پښتون هله سيالي کړای شي
چې را ټول په پښتو شي خوزښتونه را پيدا کړي

کور زمونږ واک ئې پردی دی دا تر څو به وي تر کومه
غيرت څه شو چې خپلواک او خپل حقونه را پيدا کړي

اووښتون ذهني پکار دی د قامي ژوندون لپاره
چې سياسي تاريخ ژوندی کړي نهضتونه را پيدا کړي

عقل پوهه ستوری دواړه لوګی کړی له پښتونه
چې ارمان د ازادۍ ته نوښتونه را پيدا کړي

لوړه

که افغان دی که پټهان که روهیلا
واړه نوم د يو پښتون دی برملا

خوله اره د پښتون په نوم یادیږم
دغه نور نومونه ایښي دي بل چا

پښتون اصل نور نومونه دي رنګونه
دا د خان لالا افضل خان ده وینا

که په هر رنګ مې څوک بولی و دی بولي
دې کې خوښه خپله خپله د هر چا

دا مې لوړه د پښتو سره به مرمه
ستوری نه دی بې پښتو ژوند ته پیدا

دازدی ګلان

ګلان شته خو ډوب ولاړ دی اغزو کې
پیغلې غواړي چې ئی و ټومبې کمڅو کې

ځلمی اوس دی امتحان د مینې اخلی
پاتې رانه نه شی د ګلو په راوړو کې

که ګلان دازادۍ راوړی ځلمه
بیا پیغلی یادوي دې په مسرو کې

د مجنون لیلا کیسی به خلک پریږدی
ستا د مینې کیسی کیږی به حجرو کې

پلوشی به داسمان ستوري خپرې کړی
رڼا ئی به شی د ژوند په تروږمو کې

د سور پوښانو دود

خیال مې ځلمی دی او په فکر کې مستي لرمه
د نوي ژوند په میو تنده ماتولی شمه

د خوشحال خان قلم او توره کې هستي لرمه
د باچاخان د سور پوښانو دود ساتلی شمه

ملامی ترلی د وطن د ازادۍ د پاره
د پښتنو د ابادۍ او سوکالۍ د پاره

ډکې پیمانې

تا چې د سرو شونډو قلنګ کې بهانې پریښودې
زه ستا ملنګ شوم ما د ټول چم میخانی پریښودې

ستا د اوربل لاندې مې جوړه کړه دیره د مینې
دعشق نشو کې مې د مینې خزانی پریښودې

مجنون لیلا نه لاس په سر شو چې ئې ته ولیدې
بلبل هم بڼ کې د ګلونو ترانې پریښودې

چې ستا د سپین مخ په رڼا باندې ئی زړه بایلو دو
پتنګ د شمعې سره نورې یارانې پریښودې

چې ستا د تورو زلفو سورې ئې په ږیره پریوت
شیخ په ثنا کې دې د حورو افسانې پریښودې

ستا عاشقان مې رقیبان شو خو ما وګټله
د مینې ننګ کې د پښتو مې نښانې پریښودې

چې ستا د خولې د میو خوند مزه ئې وڅکله
ستورې ساقې ته ډکې پیمانې پریښودې

د میرویس بابا پګړۍ

بچې دې د پښتون ډېر شي که لروي او که بر
هر ګوټ کې دې پیدا شي د خوشحال نیکه لښکر

د پت ښیګړی توری وروروڼی ئې جوړه خټه
په ننګ کې ئې اښکلی د پښتون هډ او ټبر

پښتو او پښتونوالی وروڼی کې ئې ونغاړه
ای پلاره د میرویس بابا پګړۍ کړه ورپسر

چې سر ټیټ نکړی غیر ته ازادۍ سندری وائی
او تورې د ښکیلاک ته ئې سینه وی لکه سپر

د توری او قلم خاوند چې هر پښتون بچی شي
نو هله به روښانه شي بیا ستوری د سهر

يورپی پېغله

دا ده يـورپـی پـېـغـلـه پـری ئې ږده چې څه کـوي
قيد پابندی نـه مـنـی هـر څـه پـه خـپـل زړه کوي

ستـا پـدی کې څـه کـار دې بد کوي که ښـه کـوي
جـوش د مينې تـن کې شـتـه چـيـرتـه الـوتـه کوي

الـــــوزي بـه کـوم پـلـو چـيـرتـه بـه د مـه کـوي
چـا تـه بـه بـيا وخـانـدي چا غـبـرګـې بـه شـپـه کوي

چـا تــــه بـه ورغـاړه شـي چـا تـه بـه کـاتـه کـوي
سـتـوري تـه هـمـدا بـس دي تـش چې تماشه کوي

تورتم او رڼا

د تضادو جوړه شوی دا دنیا
د رڼا وجود تورتم نه دی پیدا

تیاری نښه د رڼا د موجودیت ده
که تورتم نه وی نو به وی رڼا

که غم نه وی خوشحالي چیری نه وی
خوشحالي شته ځکه غم شته دی اشنا

غم پسی د خوشحالۍ راتګ جبرې دی
داسی شپه نشته چې نه ئې شته سبا

دا تیاری د ژوند ورکیږې سبا کیږې
د سبا ستوری راخیژی خامخا

د قام بچی

پښتو کوی پښتونولی د قام بچو کې شته دی
پت او ښیګړه ، توره او ورورولی پښتنو کې شته دی

پښتانه یو دي یو تاریخ او یو کلچر لری
یوه ئې ژبه ننګ پښتو ئې هر ټبر لری

د غیرت نښی د مشرانو په شملو کې شته دی
پښتو کوي پښتونولی د قام بچو کې شته دی

پښتون قامونو د دنیا کې پخوانی قام دي
وتی ئې نوم دي ننګلیالی او میړنی قام دی

د ازادۍ مینه ئې وینی د رګو کې شته دی
پښتو کوی پښتونولی د قام بچو کې شته دی

میلمه پالنه ئې صفت ده لوی د یری لرینه
په ټنګ ټکور منګی رباب تودی حجری لرینه

رڼا د ژوند ئې د هسک ستورو پلوشو کې شته دی
پښتو کوی پښتونولی د قام بچو کې شته دی

یارانی

ته لا خبر نه ئې چې دی څه وکړی کانی
پریږده دا خبری نور د تیری زمانی

کې ایږده موزیم کې چیری بیا وروسته پکار به شی
اوس نه پکار یږي نوی شوی ترانی

مه یادوه ماته دې د یار د غیږ مزی چرچی
جوړی د قام قتل ته وی دغه یارانی

نشته قاتلانو د ملت ، ته په اولس کې ځای
جوړی که خپل جرم ته هر څومره کړی بهانی

چا چې ابادئ په نوم ودانه دنیا ورانه کړه
څنګ به کړی ابادی ستوری ورانی ویرانی

کتاب او قلم

که وخت راغی سر او مال به کړم فدا
ستا په مینه زما ګرانی پښتونخوا

ستا په عشق کې چې عمری مې دې ملګری
یو کتاب او بل قلم اشنا زما

پسرلی

خوښ مې پسرلی دي ځکه ټولو موسمونو کې
شنی جامی اغوستی طبیعت وي سمه او غرونو کې

وخت که دځوانۍ د کال وي دائی د ځوانۍ وخت دي
ژوند او ځواک پیدا شی ونو بوټو په رګونو کې

ځوان د مین زړه شي هم ئی فکر په ځوانۍ راشي
ځانګی د ګل ثانګو کې د زلفو په ټالونو کې

مست شي بلبلان په باغیچو کې میلی جوړی کړي
ګرمی ترانی د بلبلانو وي بڼونو کې

ستوری ئی د سترګو په کمره کې عکاسی کوي
رنګ د یار د شونډو وینی پاڼو د ګلونو کې

نوی نغمې

چې دی شونډی زما شونډو ته نژدې شوې
رانه پاتی پیمانې د میخانې شوې

ستا د سرو شونډو په میو چې شوم روږدی
نوی ژوند ،نوې رباب، نوی نغمی شوې

نوې شوه د ژوند نغمه نوې سندری
ارادې مې شوې غښتلې پښتنې شوې

زړه مې مست شو خیال مې وسپړل ګلونه
هره خوا د پسرلي خوږې وږمې شوې

چې د ستوري نه ئې فن د مینې زده کړ
په پښتو هم د بلبلو ترانې شوې

غنی

هم سیاسی، هم ادبی، هم فلسفي دی
دا اتل د پښتونخوا نوم ئې غني دی

غني کړی خدای هنر او په ادب کې
د پښتون ځلمی سیاست کې نوښتی دی

فلسفه کې د ځان ورک شي لیوني شی
بې پروا دی رښتیا وائی رښتوني دی

هوښيار ليونی

ځانته وائی ليونی چې ډير پوهېږي
غنی و او سايل هم ليوني کېږي

د هوښيار ليوني دا کره خاصيت دي
چې ځنځير د پابندی شلوی بيليږي

ليونتوب ئی وسيله دازادئ ده
ليونو ته ثوک ثه نه وائی غريږی

د پښتو د ادب پلار اجمل ختک هم
د ژوندون دارتقا جنون خوښيږي

ستوری هم پابندي نه منی باغی دی
اوسی ځمکه کې اسمان کې پاس ښکاريږي

شنی غوټۍ

شنی غوټۍ د څانګو په سرو کې ټوکیدلی دي
ښکاري د انډوک سونډوک سیلۍ ونی شاربلی دي

نور به پسرلی وی د ژوندون ناوی سینګار به شي
تللي بلبلان د بڼ په لوری الوتلی دي

بیا به جونی څڼو کې ګلان دازادۍ کېږدي
ویښ دي غیرتونه او ذهنونه او ختلی دي

جوش د قام د مینی د ځلمیانو په رګو کې شته
مستی ولولی د قام ولۍ راپاریدلې دي

ستوری د قلم په څوکه کر، د خپلواکۍ کوه
چا چې څه کرلي هم هغه څه ئې ریبلې دي

باغي د نيا

تخيل باغي دنيا ده پابندي نه شته په چا
هلته فكر بندي ندي، الوتى شي په هر خوا

زه چې تنګ شم له غمونو تخيل ته وتښتمه
هلته ګرزمه بې غمه له غمونو بې پروا

ټال د زلفو ځان ته جوړ كړم ځنګوم پكې فكرونه
راولم ملي يووالى جوړومه پښتونخوا

سپلنى شم د وطنه د پښتو پسرلى جوړ كړم
د ژوندون تيارى شي وركې روڼ شي ستورى د سبا

ملی ترون

د باچا خان په لار روان ملی ترون دي زمونږ
پښتو عزت، پښتو ایمان، پښتو قانون دي زمونږ

تور ځنځیرونه ماتوو لوی پښتونخوا جوړوو
فکر پښتون، احساس پښتون، عقل پښتون دی زمونږ

د پښتون فکر زلونو کې څوک تړلی نه شي
ازاد پیدا دي غلامۍ کې لویدلی نه شي

زيری

ذهنونه او ختلی د حالاتو رنګ بدلیږي
څه نوی شان خوځښت دی غیرتونه راویښیږي

د ژوند د بې وسۍ توری تیاری په ورکیدو دي
پښتون په یو مرکز د قامولۍ باندي ټولیږي

ملی غرور او حس د پښتونوالی ژوندي شوي
غوټۍ د ارمانونو غټی شوي دي غوړیږي

نسیم زیری راوړي د خوشحال بابا دیري ته
بیرغ د خپلواکۍ د پښتنو جګ شو رپیږي

دا ستوری د اسمان ورته رڼا کوي ولاړ دي
نقشه کې د نړۍ د پښتونخوا نوم لیکل کیږي

غم کم خوشحالي ډيره

جانانه نوری دا سپیری ورځی د غم تیریږي
د خوشحالۍ ورځی راځی زمونږ په چم تیریږي

بیا به په وچو شونډو وار د خنداګانو راشي
په رقیبانو زلزله به په هر دم تیریږي

ژوند یو څو ورځی په دنیا دی ابدی خوندی
بده ده دا څه په ښادۍ څه په ماتم تیریږي

منم احساس د خوشحالۍ د غم وجود نه پیدا
خو که غم کم خوشحالی ډیره وی ژوند سم تیریږي

ستوری ښه دا ده چې په نیک نوم د چا یاد پاتی شي
که خوشحالی وي او که غم وی نو دا هم تیریږي

د سبا رڼا

چې د غم په کور غوغا شي
خوشحالی مونږ کره راشي

د ښکیلاک تیاری شي ورکې
رڼا سپینه د سبا شي

لر او بر پښتانه یو شي
او ازاده پښتونخوا شي

د پښتون چمن زرغون شي
او غوټۍ ئې په خندا شي

ستوری وائي چې بیا هله
به پوره ارمان زما شي

پښتونخوا ستا اتلان

نه پوهیږم چې په کوم یوثه ولیکم
پښتونخوا ستا اتلان بې شماره ډیر دي

ولی خان اجمل خټک که افضل خان دي
واړه ستا په مینه مست له سره تیر دي

که دا ستا ټول اتلان زه یادومه
لوی کتاب به د نومونو جوړومه

غنی خان په نوم ئې دلته بس کومه
د ارباب سکندر یاد تازه کومه

د طبیعت قانون

خپل عمل د لاری مل د هر انسان دي
که څوک ښه شي او که بد شي د خپل ځان دي

چې څه وکری هغه څه به ریبی بیا
دا قانون د طبیعت ددی جهان دي

هر څه درومي پاتې کیږي صرف یادونه
یاد ژوندی د ننګیالیو د کاروان دي

ننګیالی د تاریخ نه مري تل ژوندي وي
که میرویس که احمد خان که باچا خان دي

ما کبیر ستوری خاپوړی په کې کړي
ازادئ د پښتونخوا مې لوی ارمان دی

د هنر ځولۍ

جرګه ځم کور په کور د قام ځلمیان راټولوم
ملي وحدت د پاره عاشقان راټولوم

پګړۍ د ننګ غیرت چې د نیکونو په سر کړي
بچي د میرویس خان او خوشحال خان راټولوم

خدمت کې چې د قام او دوطن نه سترې کېږي
د توري او میړانې جوړ ځوانان راټولوم

د فن هنر ځولۍ چې قامولۍ باندې سینګار کړي
لیکوال هنرمندان او فنکاران راټولوم

د ستورو قافیلې چې ورسه هسک کې بدرګه ځي
ډولۍ دازادۍ ته ننګیالیان رټولوم

د ژوند راز

دا فلسفیانو فلسفو کې شته
تمه د سبا تورو تیارو کې شته

ژوند چې شئ ژوندی غم ئې ملګری شي
مړي نه کړي غم ، غم په ژوندو کې شته

شرنګ د زلونو ئې سرودونه شي
خیال دازادۍ چې ئې مغزو کې شته

رسي به منزل ته خامخا د ژوند
ځواک د حرکت چې ئې پښو کې شته

راشه چې د ژوند په راز دې پوه کمه
راز د نوي ژوند ستورې شعرو کې شته

میره د ښایست

خوب کې مې بیګا د ازادۍ ناوی لیدلی وه
ځانته مې ډیوه د نوی مینی لګولی وه

زلفی ئې ټالونه بهارونه و وږمی وی
شونډی ئې ګلونه و خوندونه و خوږی وی
سترګو کې رنګونه و ، رازونه و ، درنی وی
میره د ښایست وه ټولو ښکلو کې ویاړلی وه
خوب کې مې بیګا دازادۍ ناوی لیدلی وه

ژوند د خپلواکۍ و د یووالی په نغمو کې
ساز او سرودونه و دیرو د پښتنو کې
ګرم اتڼونه وخوشحال بابا حجرو کې
ستوری خپل قلم ته د غیرت شمله تړلی وه
خوب کې مې بیګا دازادۍ ناوی لیدلی وه

د سړيتوب تول

زه پښتون يم پښتنی زما جهان دي
سر او مال مې د پښتو ځنې قربان دي

په پښتو باندې ژوندې په پښتو پايم
پښتو ننګ پښتو غيرت پښتو ايمان دي

چې پښتون وي خامخا به پښتو کاندي
پښتو تول د سړيتوب عزت او شان دي

په پښتو کې ارزښتونه د ژوندون شته
د ژوندون ستوري پښتو په لار روان دي

د مینی لوظ

غلی ئی وکتل مسکی شوه لاړه
د کوڅی ګوټ کې راته وه ولاړه

د مینی لوز کې راټینګ کړمه
چکر ته ووتو د سیند په غاړه

ما ویل کودر د سرکاڼو مې یاد شو
دی ویل کله به ځو هلته دواړه

د زلفو بارئې له وږو نه کوز کړ
یوه شیبه چیرته په چرت کې لاړه

بیا شوه راوړاندی راته غوږ کې وویل
سوچ ډیر ضرور دی د وطن په شاړه

د قام وطن نه سپلنی دی کړه ځان
ستوری په عشق کې سر ساتل مه غواړه

د مینې لارې

چا ویل چې د مینې لارې ورانې دي
د رومې قافیلې پرې ور روانې دي

زه د نسیه حورو مین نه یمه
خوښې زما نغدې سوداګانې دي

زه یم د وطن په ازادۍ مین
لوړې سردرې ئې په ما ګرانې دي

وینه کې مې پټ شته دی پښتو شته دي
پاتې له نیکونو مې میراثې دي

جیګه به شمله د خپل نیکه ساتم
ټینګې اردې د ستورې ځوانې دي

پاخیږه پښتونه!

پاخیږه پښتونه نن د قام او قامولی وخت دي
پریږده تربګنی د اتفاق او ورورولولی وخت دي

وګوره قامونو د دنیا ته چی ازاد شولو
واک ئې خپل را خپل کړلو په خپل وطن کې ښاد شولو

خپل جنت وطن کې پښتانه خوار او برباد شولو
واک اختیار ئې نه شته ورته تربیی بې سواد شولو

دا حال بدلول غواړي نړی کې د سیالی وخت دي
پریږده تربګنی د اتفاق او ورورولولی وخت دي

دا پښتنه خاوره پښتنو مونږ نه پښتو غواړي
ننګ غواړي غیرت غواړي میړانه د نیکو غواړي

بیا د خیبر سر کې جګول سر د شملو غواړي
نور د خوشحال خان توره تیره په شرنګیدو غواړي

جوړه پښتونخوا کړی د قومی اولسولی وخت دی
پریږده تربګنی د اتفاق او ورورولولی وخت دي

اوس چې مونږ پانه څو ستوری وائی چې ورکيږو مونږ
بـــــيا که چيري پاڅو نو منزل ته نه رسيږو مونږ

نه کــــړي انتظار د وخت کاروان ترې پاتې کيږو مونږ
پاڅيـــــږه پاڅيږه دې کاروان سره مل کيږو مونږ

نور خيالونه پوچ دی د پښتو پښتونولۍ وخت دي
پريږده تربګنۍ د اتفاق او ورورولولۍ وخــت دي
پاڅيږه پښتونه نن د قام او قامولی وخــت دي

د ننک شمله

څنګ به ښه وي څنګ به ښه وي
پښتونخوا کې چې میشته وي
په پښتو باندي هر څه وي
کاڼي پوټي پښتانه وي
پښتونخوا کې چې میشته وي

په پښتو باندې ویل وي
په پښتو باندې لوستل وي
په پښتو باندې لیکل وي
هسکه مې د ننګ شمله وي
پښتونخوا کې چې میشته وي

جوړ ځما ملي ګلشن وي
واک اختیار مې د وطن وي
زرغونه ځما چمن وي
خوښ خوشحال به ستورې زړه وي
پښتونخوا کې چې میشته وي

د مینی فن

د مینی فن کې مې نیستۍ نه مخه ښه واخیسته
د قسمت ویش کې مې په برخه میکده واخیسته

زړه مې زلمی شو او نشه مې په مستۍ راغله
چې مې د قام په مینه ډکه پیمانه واخیسته

د ازدۍ د لیلا تږو ته ساقی شومه زه
د تږو تنده ماتول مې په زمه واخیسته

د میو سیند مې د لیلا منګی د پاره جوړ کړ
د ګودر غاړه مې ریبار ته اجاره واخیسته

د لیلا مینه کې مجنون د پښتو ستوری شومه
د خوشحال خان قلم او توره مې تیره واخیسته

بلبل

انتقاد چا په بلبل باندې کولو
ویلی ستړی ئې کړو ځان پدی بدلو

ما ویل ته د ژوند د رازه څه خبر ئې
نه پوهیږې د عشق اور کې په سیزلو

که بلبل په شان په ګل باندی مین شې
بیا به شپه او ورځ لګیا ئې په غزلو

که د مینی د مۍ څښل د ستوري زده کړې
انتقاد نه به لاس واخلی د بلبلو

د مینی مور چل

څوک چې په دار د تورو زلفو ځنګېدلی نه شي
هغه د مینی په رازونو پوهېدلی نه شي

د لونګین په لړ ختل چې ورته ګران ښکارېږي
په مې د شوندو باندې تنده ماتولی نه شي

د مینی جوړه ده دنیا په مینی ښکلی ښکاري
بې مینی ژوند څه دي په ژوند حسابېدلی نه شي

د وطن مینه کې لوګي او سپلنی چې شي څوک
هغه مین د قام د یاده نه وتلی نه شي

ستوری د مینی مورچل نیسه که مین ئې رښتیا
ګنی لیلا د ازادۍ کور ته راتللی نه شي

رسوا مینه

زما وینه پښتنه، پښتنه ساده
پښتو پت پښتو غیرت ابرو زما ده

د پښتو مینی په تور مې که څوک وژنی
زما سل ځله پری خوښه او سلا ده

زه به مړ شم نظریه مې نه مړه کیږي
خوره شوي چې په ټوله پښتونخوا ده

رسوا مینه پټولی ستوری نه شي
د پښتو سره ئې مینه بر ملا ده

ستومانی

که د ژوند خبری هرڅومره ترښې شي
چې دا ستا د شونډو رنګ واخلي خوږې شي

چې مسکی شي جهان واړه په خندا شي
خوشحالی شي ورکې ټولی اندیښنی شي

مسکۍ اوسه چې د غم په کاله غم وي
په منګي او په رباب تودې حجرې شي

لږ قلنګ د سپینی خولی د میو راکه
چې بې خونده راته مې د میخانې شي

د اوربل د سیوري لاندې ئې اوده که
چې د ستوري ستوماني وزي دمې شي

لویه فلسفه

فلسفې به د دنیا راتولومه
د پښتو او پښتونوالي زارومه

دا زما پښتونولی لوی فلسفه ده
څه حاجت د فلسفو نورو لرمه

د پښتو پښتونولۍ په لار روان یم
په دی لاره به تر عمره پوری ځمه

د جرګو سیستم خو، ښه اولسولی ده
دا سیستم به د جرګو پرا خومه

دا زما د عزت پت او ننګ قانون دي
د جرګو پریکړه په سر سترګو منمه

چې تمامه پښتونخوا پری شي خوشبویه
هری خواته د پښتو ګلان کرمه

ستوری تا که پسرلی د پښتو جوړ کړ
بیا شمله د ننګ به جګه وترمه

ولې څه دی څه د پاره ؟

خدای دې نه کړي بې هدفه بې مرامه ژوند د چا
بې هدفه بې مرامه ژوند کې نشته دی مانا

ولې څه دی څه د پاره ؟ دا پوښتنی خوتل کیږي
یو علت د پیښې ګوری بل هدف غواړی له تا

که څواب ئې ورکوې شي راته وو ایه دواره
ولی څه له څه د پاره ؟ پیدا کړی خدای دنیا

پیدا کړی ئې ده غم ته که خوښي هم چیرې شته دي
زه چې څوک په ژړا وینم ماله هم راځی ژړا

زه د غم ملګری نه یم خوشحالۍ سه مې دوستي ده
د ژړا نه مې زړه تور دی راته وخانده اشنا

دا غمونه بې حد ډیر دي غم په وار به ئې کوومه
راته وخانده خندېږه چې زه هم شم په خندا

په خندا په خوشحالیو د منزل په لوری ځمه
ستوری نه دی بې مرامه بې هدف ژوند ته پید

خوښه

که د چا دا او د چا دا خوښه ده
ځما د قام خپل ارتقا خوښه ده

که څوک پردو په غلامۍ نازیږي
ځما ازاد ژوندون فضا خوښه ده

که څوک د سرو شونډو خوبونه ویني
ځما په ویښه مشغولا خوښه ده

که څوک د زلفو خیالي ټال جوړوي
ځما رښتیا په ټال ځنګا خوښه ده

که څوک نسیه حورو په تمه ناست وي
ځما دا لاس په لاس سودا خوښه ده

که څوک عقبا کې عشرتونه غواړي
ځما خوشحاله دا دنیا خوښه ده

که څوک یورپ کې په بنګلو کې خوښ وي
د ستوري خپله پښتونخوا خوښه ده

نوی سوچ

ساز چې ارمونیه رباب دوکړو سره یو ځای کړله
قام وطن او مینه مې پښتو سره یو ځای کړله

جوړه مې نغمه د ازادۍ کړه غږومه ئی
ناوې مې د ژوند د قام ځلمو سره یو ځای کړله

دا د فن لمن به ډکوومه د پښتو ځنی
ما چې پښتونواله د مسرو سره یوځای کړله

نوی وده نوی سوچ او اند غواړي
پوهه مې د سر د زړه جذبو سره یو ځای کړله

رسي به منزل ته قافیلی د ژوند
ستوری چې رڼا تورو تیارو سره یو ځای کړله

دزلونو شرنګهار

خیال مې ځلمی دی تورو زلفو نه ټالونه جوړئ
د ټال ځنګا کې د ژوند ناوی ته خالونه جوړئ

د پښتنو دیری حجری په ټنګ ټکور تودوی
منګی رباب کې د ژوندون نوی سازونه جوړئ

د وطن پیغلی چې اوبه تری د قام تږو ته وړی
د ګودر غاړی کې منګیو قطارونه جوړی

د پښتونخوا دازادۍ او سوکالۍ د پاره
د اتفاق او د یووالي غورځنګونه جوړئ

د فن لمن چې د غیرت او د پښتو ډکه وي
هغه لیکوال هغه فنکار ته ګلهارونه جوړئ

ستوری تورتم رڼا کوي په پښتني سندرو
د زلونو د شرنګهار نه سرودونه جوړئ

ګناه د ازل نده؟

ګنا د ازل نده هسي تور دي پری لګیږي
خبره د حالاتو ده پدي که څوک پوهیږي

انسان خو له ازله بد بخت نه دي پیدا شوې
بد بخته ئې حالات کړي بد قسمته شي کړیږي

چې زړه دي وکه زړه نو بد لولی شی حالت
حالات چې شي بد ل قسمت پخپله بیا بدلیږي

هدف که دي قسمت خپل بدلول وي متهی نغاړه
برکت دی حرکت کې دا متل دلته چلیږي

ډیوه د ذهن بله که هدف په لوری درومه
هد ف چې ژوند کې نه وي ژوندون مړاوې شي وچیږي

امید د هد ف ساه ده په امید باندی ژوندی دي
امید د ستوري شته دی چې پښتون به ازادیږي

د ژوند سا

ژوند چې وي ژوندی له حرکته بېلېدی نشي
مرګ هغه ژوندون دی چې له ځایه خوځېدی نشي

سا د ژوندي ژوند په حرکت کې مالېدلی ده
بې له حرکته ژوندون نشته ژوند کېدی نشي

ځکه دا منم چې حرکت کې پروت برکت دی
ګرزنده ګېدړ به له زمری چې پاڅېدی نشي

مه دریږه روان وسه هدف ته به رسېږې ته
هغه ډنډ خوسا شي چې اوبه ئې بهېدی نشي

څوک چې خپل قسمت د بد لېدو اراده نه لري
لیکه دازل ئې به خپل حال وي بد لېدی نشي

برخه د قسمت که بد لوی نو پسې وګرزه
ورکه پسې نه شي لیلا غېږی ته راتلی نشي

دادی حرکت ستوری د ګوتو د قلم نه دي
ګینی دا قلم ځانته پخپله څه لیکی نشي

د پښتو لار

مینه مې د ښکلو هم په سر سترګو منلې ده
خو مینه د وطن مې ټولو مینو کې ښاغلې ده

مینه خو یو حس دی د جسمونو پیوستون ندی
زړه د مینې کور دی مینه زړه کې غوړیدلې ده

وینه مې په زړه کې د وطن په مینه مسته ده
تن کې مې جذبه د قامولۍ راپایدلې ده

سوچ کې مې ورېمه د ازادۍ او سوکالۍ شته دی
ملا مې د پښتون سیاسي یووالي ته تړلې ده

ځمه د یار غیرت ته بې پروا د کړنګونو نه
مینه پښتنه مې په ځوانۍ باندې راغلې ده

ژوند به شي ځلمی د ازادۍ ناوې به راولم
لار مې د نیکونو د پښتو ورته نیولې ده

ستوری د سبا یمه ځلیږمه د غرو په سر
ژوند ته پلوشه د پښتونوالي مې شیندلې دی

مستی

دا مستي د میو نه ده د ځوانۍ جوش پارید لی
که په میو کې مستی وی نو دا خم به ګډېدلی

مستی نوم د حرکت دي حرکت نوم د ژوندون
چې روان وي حرکت کړی دا سي مړی چا لیدلي

په مستیو اتڼونو د منزل په لوری ځمه
ورک هغه دي په نړی کې چې مستي نه وي لویدلی

د مستۍ نه به وانه وړم حرکت کوم خوځیږم
څوک چې تللی او روان و ، دی منزل ته رسیدلی

د پښتو په مینه مست یم پښتونوا له مې ژوندون دی
رښا ستوری د پښتو یم په کونړ کې ځیږیدلی

منګی رباب

غم به د ټولو پښتنو کوو
مونږ په پښتو خپله پښتو کوو

مونږ د ژوند چاری په پښتو سموو
پښتونولی په سمه غرو کوو

چې د ازاد ژوندون پیغام رواړي
لتهٔ د قام د ننګیالیو کوو

د ننګه ډکی چې اسمان ته رسي
ویاړ د مشرانو په شملو کوو

منګی رباب مو د حجرو سنګار دي
میلمه پالنه په لیمو کوو

د ژوند تیاو ته چې رڼا بلوي
پام به ستوری په مسرو کوو

لوړ خيالونه

خـيـر دی اوس به دی اوده کړم د خيالونه په ځانګو کې
لـوړ خيالـونه نه ورکـيـږی د ژونـدون تـورو تــيـارو کې

چې د غـم په کـالـه غـم شي خوشحالی مونږ کـره راشي
د وحـد تـ ګـلـونه ګـل شي او ازاده پــښـتـونخوا شي

بـيـا بـه تـا زه ګـرزومـه د کـونـړ پـه سردرو کــــې
تـه زمـا بـه مـيـلمـنه ئې د خـوشـحال بـابا حـجـرو کــې

هـری شـپـی پـسی ورځ شته دی دغه شپه به هم سبا شي
سـبـاوون ته وخت ډيـر نه دی دا تياری به ژر رڼا شــــي

بيا بـه ټـنـګ ټـکـور وهـمـه د رحـمـان بـابـا ديــــرو کې
د سبـا ســتـوری رڼا کې د پـښـتـو ملی نـغـمــــو کې

د سمت برخې فلسفه

ډير ځل سمت زيات دی خپلو برخو مجموعه نده
جوړه د رباب د څو غږونو نه نغمه نده

زه خو دا نغمه په ارمونيه کې هم وهلی شم
هم ئې د سيتار بم زير پردو کې اړولی شم
هم ئې په شپيلۍ او سورنی کې غږولی شم
دا خو د سيتار پينځو تارونو زمزمه نده
ډير ځل سمت زيات دی خپلو برخو مجموعه نده
دا نغمه چې وغږيږي زه ئې پيژندلی شم
هری يوی الی د موسيقی نه ئې بيلولی شم
برخو نه سمت په جمعه کله جوړولی شم
دا د سمت برخو د اړيکو اندازه نده
ډير ځل سمت زيات دی خپلو برخو مجموعه نده
دا د سمت برخې قانون ټول ژوند کې چليږي
ډله هم د خپلو غړو شمير ځينی زياتيږي
تش د څو کسانو غونډه ډله نه نوميږي

دا د سمت برخې فلسفه ده سفسته نده
ډير ځل سمت زيات دی خپلو برخو مجموعه نده

نوی فکر

نوی فکر نوی هیلی بدلوی دا زمانه
زړه مینه شوله ځوانه نوی شوله یارانه

د ذهنونو اوښتون دی غیرتونه راویښیږی
بیا به شي تمام جهان مې د غیرت په ننداره

اغزی په ګل بدلیږی خوشبوی د قامولۍ کړی
بلبل ځان دی سینګار کړی نوی وائی ترانه

بلبلان د پښتو ژبې د ملی وحدت چمن کې
نوی نوی غزل وائی نوی نوی افسانه

د ژوندون تیاری خپریږی د سبا ستوری راخیژی
خامخا به زرغونیږی د پښتون قام ویرانه

د پښتونوالی حس

چې مین څوک په وطن وي ترې نه زار شم
چې د قام په درد درمن وي ترې نه زار شم

چې ئې حس د پښتونوالی وي په زړه کې
که زما د سر دښمن وي تر نه زار شم

قام

قام ملت خو کلتوری ده استلا
چیری نه دی نژدی ملت پیدا

په نژاد که ملتونه جوړیدی شوي
اوس به وی یو لوی ملت د اریانا

یا به واړه انسانان صرف یو ملت وی
چې بچی دی د ادم او د هوا
تش په وینه باندی څوک نه پښتون کیږی
چې له خپل کلتور او ژبې وي جدا
چې پښتو او پښتونواله په کې نه وي
پښتون نه دی ستوری وائی بر ملا

د کونړ سیل

تـیـاري د ښکـیلاک مې نوی دنـیا بـه وویـنم
خـپـل کــور کـلی حجـرې وطـن رڼا بـه وویـنم

یـاران بـه میـلـمـانه کړم د حجرو منګي رباب ته
په ټـنـګ ټکور نغمو کې یار اشـنا بـه وویـنم
څـو ورځــی به په کور یم بیا به لاړ شمه په سیل
دا غـرونـــه د کـونـړ د شـا وخــوا بـه وویــنم
د دنـګـو غـرو لـمن کې چې د ژوند سندری وائی
د سیند د اوبــو شـور غـور ځـې نـڅـا به وویـنم
چـکـر د سینــد پـه غـاړه مـازیګر کې به وهمه
ګــودر د ســـرکـاڼــو او جــلالا بـه وویــنم
د حـسن شـاهـزدګۍ چې د ګودر غاړی ته راشي
دا میـره د ښـایســت او د ښــکـلا بـه وویـنم
رنـګونه د ښـایـست چې کاڼو بوټو کې دیره دي
ویالې شیـنکي بـاغـونـه هــره خوا بـه وویــنم
بلبلی چې ډاکـونو کې د ګلو بـاغـبانی کړي
د ګــل او د بـلــبـل نــاز او ادا بـــــه وویـــنم
چې تـوره د خـوشـحـال ئې جوړه کـــړی د قلم نه
تــنر کې هغـه ســتوری د سـبا بـــــه وویـــنم

فلسفی مینه

ستـرګـو کې چې جوړ د ښایستونو تصویرونه شي
زړونـو کې پـیدا د مینی لوی لوی غور ځنګونه شي

مستی کړی جذبي د زړه سور اور د مینی بل کاندي
سیزي پری خپل ځان تمام وجود ئې پرهارونه شي

عـقل شي بــــــې خود جذبـه د مـیـنـی غـلـبـه وکړي
مینه ئې ژونـدون شي پـاتـی نور تـری تول کارونه شي

عـقـل چــې پـه خـــود شي مـنـطـقي هـره خـبـره شي
مـیـنـه فـلـسـفي شـــــي مـنـطـقي ئې اصولـونـه شي

ســتـــوری د خـپـل زړه مـیــنـه پـه عـقـل هم تـللی ده
مـیـنـی د پـښـتـو تـه ئې پــیـدا ډیر دلـیـلـونه شي

ډالۍ

ټال کې د زلفو دی ټالۍ ورکړه
یار ته د سرو شونډو ډالۍ ورکړه

ملي خیالونه درنه مړاوی نه شي
ذهن ته رنګ د قامولۍ ورکړه

چې د پښتو ګلونه تل سمسور وي
پښتون ته حس د ورورولۍ ورکړه

د ازادۍ ملي مرام له پاره
ځواک هر یو ځوان ته د سیالۍ ورکړه

ستوری که شعر وي د لفظونو تصویر
رنګ د پښتو پښتونولۍ ورکړه

سګرټ

تا چې ټول ځان خپل لوګی کړ د خپل یار نشي د پاره
پتګان له تا نه زار شه ای په عشق کې وفاداره

ستا عادت له نورو بیل دی نور چې کش شي نو اوږدیږی
ته چې کش شي نو لنډ یږی سو ځوی ځان سم دواره

ته په مینه کې ځان سیزی سوځیدو کې دی نشه شته
عاشقان دی نشه کړی مست خوشحال ګرځی خماره

په نشه کې د ژوند راز دی ته ددی راز ئې استازی
تا ستی کړ ځان په عشق کې سپلنی شوي د خپل یاره

ډیوه کله دا ستا سیال ده چې پتنګ ئې نشه نکړ
هسی اور کې سوزوي ئی د نشی ګرځي کناره

د فکر پلوشه

پلوشه چې پری د فکر را خوره شوه
د پښتو لیلا کې لا پسې ښایسته شوه

دلیلونو په ما ستوری اثر وکړ
پخوانۍ مینه مې ځوانه شوه توده شوه

زړه او د ماغ

قانون د طبیعت دماغ روښان شي پیژندلی
د پوهی په رڼا کې حال د ځان شي پیژندلی

دماغ چې وي روښانه که تیاره تمام جهان شي
پروا ئې نه شته لاره بیا انسان شي پیژندلی

دماغ چې وي تیاره د زړه د حاله نا خبر شي
نه سوز د قام د مینی نه ارمان شي پیژندلی

دماغ او زړه چې یو ځای شي روان غاړه په غاړه
دا ستوري دي ګواه کور د جانان شي پیژندلی

توره او قلم

د فن په ژبه سربازي د پښتونخوا واخله
توره قلم دې د خوشحال خټک بابا واخله

د سربازۍ ډکر ته ځی چې چیری تږی نه شي
شربت د شونډو پر یمانه خامخا واخله

مینه د قام د همځولو ځنی پاتی نه شي
د قامولۍ بیرغ په ډاګه بر ملا واخله

چې باغیچې د پښتونوالي پرې زرغونې شي بیا
او چت ګامونه د ژوندون د پرمختیا واخله

د مرګ قاصد ته ستوری وائی دا پښتو به کوې
چې مې ازاد ژوندون سیل وکړ بیا مې سا واخله

پښتو

څه حاجت زما د مینې د بل چا شته
چې پښتو د ښایست میره مې لیلا شته

پت، ښیګړه، توره ورورولي ئې هډ دی
دا خویونه په پښتو کې په رښتیا شته

او چې ننګ ورسره مل شي نو پښتون شي
د پښتون د نوم د تورو دا مانا شته

پښتونواله کې پیدا پښتو کې لوی شوم
پښتونواله کې مې ژوند او پر مختیا شته

ستورې خپل زړه څو څو ځله امتحان کړ
پکې مینه د پښتون او پښتونخوا شته

هدف

هدف د پاره لاری په ډیر غور لټوه
لار د پاره خپل هدف مه بدلوه
د ستوری سلا اوری عملی لار ونیسه
که لنډه لار نه وی په اوږده لار ورځه

د بخت ستوری

راته ښکاري حالت دي په بدلیدو کې
اوښتون ذهنی راغلی پښتنو کې

اوازی دي د یوالی خپری شوي
اتڼونه دي خوشحال بابا دیرو کې

د ارمان د امیدو غوټۍ به ګل شي
بیا به وټومبي ځلمی ګل په شملو کې

بیا واکمن به خپل وطن کې پښتانه شي
پښتونخوا نوم به شي یاد خپلواک ملکو کۍ

د پښتون د سوکالۍ وخت راروان دي
د بخت ستوری ئې ځلیږي تورو شپو کې

بیلتون

د عشق یو ځو جامونه څکمه لا خومار نه یم
بیلتونه مه رادرومه تا ته وزګار نه یم

په پښتنی مینه کې ځای د بیلتون نه شته دی
دلته پښتو چلیږی د بل قانون نه شته دي

د وفا دود پالمه یاد جفا کار نه یم
بیلتونه مه رادرومه تا ته وزګار نه یم

ته عاشقان بیلوی د بدبختۍ نښه ئې
چرته چې سر ښکاره کړی د بربادۍ نښه ئې

ته د افت نوم ئې مل دی د لار نه یم
بیلتونه مه را درومه تا ته وزګار نه یم

پښتانه واړه یو دي یو ئې دی پت او وطن
خپل منځ کې تا نه پریږدي ته د وحدت ئې دښمن

زه د وحدت ستوری یم د بیلتون یار نه یم
بیلتونه مه رادرومه تا ته وزګار نه یم

ریالیست

چې د زړه د ارمان تول وشی مغزو کې
ریالیست شی زړه د عقل دلیلو کې

ریالیست شه دا مکان سره ګام واخله
چې پیدا شي ترقی ژوند پښتنو کې

چې زما ښکلی وطن راته سمسور کړي
پښتانه د سیالۍ سیال شي اولسو کې

بیا حجری د قام تودی په ټنګ ټکور شي
د پښتو او پښتونوالی په نغمو کې

په اسمان کې میلی جوړی شي د ستورو
د ژوندون د پسرلي خوږو وږمو کې

د ښایست معجزه

ما چې سوچ دا ستا په تور پیکي کولو
راسره نه و الفاظ ئې د ستایلو

خوشبو ئې د پښتونوالي تر نه دړومی
حاجت نه لري د عطرو د وهلو

پیدا کړی د ښایست خدای معجزه ئې
سترګی کله دې مړېږي په لیدلو

چې د ستوري سترګی ستا لور ته کړی شوی
مزه ورکه شوه بل خوا ته د کتلو

د ستړکو جنګ

تا چې ماته په ناز ناز راوکتلو
ما خپل زړه دا ستا په سترګو وبايللو

ستا د سترګو تور زما د سترګو تور شو
زما خوښه شوه ستا خوښه د ليدلو

اوس چې هر لوري ته ګوري زه به ګورم
پاتې نه شو څه د سترګو جنګولو

ستا په سترګو کې جانانه څه اثر دي
په ستاېلو ئې شوم، د خلکو د ستايل

تورو زلفو په تورتم کې رڼا مخ دی
د سبا ستوري ښکارېږئي په ختلو

زاهد ته

ازدئ په قدر هله به سم پوه شی
که شرنګا د زلونو دی واوریدله

شپه او ورځ به ئی عبات کوی زاهده
که زما لیلا پښتو دی ولیدله

سربازی

ننګ خو د پښتون د ژوند ملګری دی
ځی د ننګ میدان ته ننګیالیان بچي

وخت د سربازۍ ستوری راغلی دی
سر، سره کړی لوبی سربازان بچي

غوښتنه

د ژوندون په ملي بڼ کې کلان غواړم
د میو په محفل کې یاران غواړم

چې حجرې د پښتنو پرې شي راګرمې
د منګی او د رباب فنکاران غواړم

ملخان او ګونګټان مې پکار نه دي
د ډیوی او د رڼا پتنګان غواړم

چې په ورځو کې رڼا کوي روان وي
هغه ستوري د سبا د اسمان غواړم

پښتونخوا

مونږ پښتانه يو ځانته خپله پښتونخوا غواړو
سياسي تاريخ ژوندی کوو نوي دنيا غواړو
پښتونولی پالو مونږ
اولسولی پالو مونږ
ټولنولی پالو مونږ
وروري منو د غلامۍ نه وتی سا غواړو
مونږ پښتانه يو ځانته خپله پښتونخوا غواړو
دا خپل وطن خپلوو
دا خپل چمن خپلوو
دا خپل ګلشن خپلو
پخپله خاوره کې خپل واک اقتدار بيا غواړو
مونږ پښتانه يو ځانته خپله پښتونخوا غواړو
د خوشحال خان بچي يو
د ميرويس خان بچي يو
د ايمل خان بچي يو
د باچا خان په لار روان ستوری رڼا غواړو
مونږ پښتانه يو ځانته خپله پښتونخوا غواړو

بې وطنه باچا

تش جامونه چې بلها شي نو پرې څه
دا محفل چې بې اشنا شي نو پرې څه

چې ئې واک اختيار زما په لاس کې نه وي
که دا ټول جهان زما شي نو پرې څه

چې ئې ليچو کې اغيار کوي خوبونه
دا سې ښکلې که ليلا شي نو پرې څه

چې قدر په خپل کور کلي کې نه وي
بې وطنه که باچا شي نو پرې څه

زور هغه دی چې د خپلو مټو زور وي
چې ئې زور پردی، امسا شي نو پرې څه

ستوري ستا د رنځ درمل کولی نه شي
دا طبيب که مسيحا شي نو پرې څه

د مینو قبله

ذکات د مینې یار ته ورکولو کې ثواب دي
ارمان د مین زړه پوره کولو کې ثواب دي

پرهیز له سر شونډو محبت کې ناروا دي
سرې شونډې مچوه په مچولو کې ثواب دي

چې غل د محبت شي د ښکلا په ننداړتون کې
روا ورته دا غلا ده غلا کولو کې ثواب دي

وطن باندې مین یم پښتونخوا مې معشوقه ده
په عشق کې د وطن سر ځارولو کې ثواب دي

دا ستوري د اسمان ئې له ښایسته رڼا اخلي
قبله ده د مینو په لیدلو کې ثواب دي

تا به څه ویلی ماته

چې تنکی مازیګری وی لمر قابو په پریوته وي
او یو بڼ وي د ګلونو بس یوازی زه او ته وي

جذبه ګرمه وي د زړونو عقل تللی وي بیدیا ته
تا به ثه ویلی ماته، تا به خه ویلی ماته

تا به ماته ویل سندری د بلبلو
که دردونه د وطن د غم ځپلو

که دی ویلی کشالی د ژوند کړه شاته
تا به خه ویلی ماته، تا به ثه ویلی ماته

تا به ماته د مجنون لیلا کیسی کړي
که د ژوند د ناکردونه دی ګیلی کړي

که دی ویلی خوله ساتلی مې ده تا ته
تا به ثه ویلی ماته، تا به خه ویلی ماته
تا به ماته ویل د مینی داستانونه
که د قام د ننګیالیو تاریخونه
که دی ویل ستوری وطن مه پریږده ما ته
تا به خه ویلی ماته، تا به ثه ویلی ماته

ګودر

هیلي شوي پیغلې په وربل کې ګل ټومبل غواړي
منګي په سر دې د ګودر غاړې ته تلل غواړي

د عاشقانو ننداري او تماشې د پاره
لنډې بازار د منګو ټیو جوړول غواړي

پښتون ځلمي ته چې نشه د ازادۍ ورکوي
هغه منګي ورته په لپو ډکول غواړي

د منګو شور ئې بوډاګان هم به مستۍ راولي
په سرو منګولو چې منګي غوپه کول غواړي

چې د څوګۍ او سرکانو مازیګرې پرې تودوي
ستوري غزل کې د ګودر غاړه ستایل غواړي

د سولی لار

په ناسته نه شی خوځیدل غواړي
څوک چې منزل ته رسیدل غواړي

په تش خبرو باندی کار نه کیږي
کار په کولو شي کول غواړي

یووالی شرط دی ازادۍ د پاره
که پښتونخوا ازادول غواړي

لار د یووالي دی په نښه کاندی
که د ژوند ناوی راوستل غواړي

د ستورو درومي قافیلی درسره
که لار د سولی باندې تلل غواړي

بنګړی

خوشبوی د لونګین دی کړم بی خوده
چې په خود شومه نغمه مې واوریدله

دا نغمه دا ستا د لیچو د بنګړو وه
پښتنه وه په پښتو غوږ ته راتلله

مصری خان خاطر

خاطر نه مری شعر ژوندی ئې په جهان دی
هر یو بیت ئې اولس-ی ساده روان دی

خاطري به د خاطروی تل خاطر کې
چې جوړ کړی د غزلو ګلستا دی

که خاطر د رقیبانو خاطر نه کړی
خو خاطر د میلمنو کړي قدردان دی

د خاطر خاطر په ستوري ځکه ګران دی
چې خیبر ئې په مسرو باندی ودان دی

لوې پښتون شې!

تش خیال نه دی مادې چیرته اوریدلي
پښتنی مور ځوی ته داسې دي ویلي

پښتو ویل، پښتو لوستل، پښتو لیکل به کوې
ځما بچیه لوی پښتون شې پښتو تل به کوې

پښتو د پت ښیګړې تورې او ورورۍ نوم دی
په پت کې ژوند په پت کې ناسته ودریدل به کوی

ښیګڼه ژوند د پښتنو کې ټولنیز قانون دی
ښیګڼه هر چیرې بې تمې بې بدل به کوې

په توره یاد مونږ پښتانه د ډیر پخوا نه یو
توره به نن توره سبا ، توره هر ځل به کوې

وروري د ځواک او د ژوندون د سوکالۍ نښه ده
وروري کول وروري پالل وروري ساتل به کوې

چې پښتونخوا ته پسرلی د پښتونوالي راوړی
په زړه کې ساته پام د ستوري په غزل به کوی

د پښتونوالی فلسفه

بنست دی د ژوندون د پښتونوالی فلسفه شي
لمن دی د ادب د خوشالو ګرمه دیره شي

اولس دی ځوریدلی خو ژړا باندی څه نه شي
پیدا دی دی اولس ته د خندا یوه شیبه شي

درمل د ځوریدلو انسانانو په امید شي
امید دی د ژوندون د سوکالۍ ورته تحفه شي

امید د خوشحالۍ او سوکالۍ چې زړه کې نه وي
انسان نه مړی جوړ شی ځای ئی ګور او هدیره شي

دا ستوری د پښتون د خپلواکی به هله رون شي
چې واړه پښتانه په یو مرکز ټول شي جرګه شي

خوښنه

د ایمل خان ستوري نه چې پخپل کمپیوټر ئې د دې کتاب شعرونه لیکلي او هم ئې د کتاب نوم ژوندې خیالونه غوره کړي د زړه د کومې ځانګړي خوښنه کوم.
د پښتنو شاعرانو او لیکوالانو د ټولنې د منلو ملګرو مبارز ځاپې او عزیز سرشار نه ډیره مننه چې د کتاب د شعرونو په لوستلو او سینګار کې زیار ویستلی دی.
د بصیر خان ستوري نه چې د کتاب د چاپولو کارئې او د نسیم خان ستوري نه چې د کتاب د چاپ لګښت ئې پغاړه اخستلی مننه کوم.
د انجینر عبدالخالق نوري نه ډیره ډیره خوښنته چې په وړیا توګه ئې د خپل کمپیوټر د پښتو پروګرام د راکولو او په کمپیوټر کې د اچولو پیرزوینه کړې او د کتاب د لیکلو د پاره ئې تخنیکي امکانات برابر کړي دي.

ډوکتور کبیر ستوري
جرمني 05.04.1997